
د ملگري خور زما مینه
سید ادریس سادات
Ketabton.com
لنډه کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پيژندنه

---

نوم . د ملګري خور زما مينه

ترتیب کوونکی . د خزان پاڼه

لیکوال . سید ادریس سادات

ډیزاین . د خزان پاڼه

د لیکوال شماره. ۰۷۳۱۳٦۳۲۰۱

د ټلګرام چینل . https://t.me/bookandnovelsadat

د واټساپ ګروپ . https://chat.whatsapp.com/HerXXDLt9tM75o1BpOrBFN

که چیرته په ګروپونو کې اډ کېدلای نشی، نو له موږ سره په لاندې شمارو رابطه وکړئ.

0731363201

SAS

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که لوستلو مو يې د لاسه نه کيږي،**
**نو په غږيزه بڼه يې برخه په برخه له لاندې**
**لينک څخه اوريدلای شئ.**

**https://youtu.be/6pKKlnHxFFo?si=0JmWiIyAKRMXaVBF**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل

زما او د هنري ډیره کلکه ملګرتیا وه، ما او هغه به د روژې په هرماښامي کې له کوره وتؤ، او د شپې ناوخته به بیرته کور ته راستنېدؤ.

کله به هم هنري زموږ کور کې د شپې لپاره پاتېده او کله به هم زه د هغوی په کور کې د شپې لپاره پاتېدم.

زموږ مینه داسې ښکارېده، چې په ژوند کې به مو هیڅوک هم سره جلا نکړي.

زموږ د کلکې ملګرتیا له کبله د هنري او زما پلار هم سره کلک ملګري شوي وو.

هغوی به هم لکه زموږ پشان یو ځای سره ګرځېدل، پدې سره په کلار کلار د هغوی زموږ د ټولې کورنۍ سره تګ راتګ پیل شو.

زنانه به مو هغوی کره ورتللې، او د هغوی زنانه به موږ کره راتللې!.

زموږ کورنۍ په ټول خاندان کې تر ټولو اعلا کورنۍ وه.

برعکس بیا د هنري دوی کورنۍ زموږ له کورنۍ هم پخپل خاندان کې د خدای بلا شهرت درلود.

د اختر په دریواړو ورځو کې به مختلفو ځایونو ته د چکر لپاره تلؤ.

مور، پلار، خویندو او ورونو ټولو به راځخه مننه کوله، چې د دوی سیالانې ملګرې او ملګري مو ورته پیدا کړي دي.

موږ به تل په غرونو ګرځېدؤ، د هنري دوی ټوله کورنۍ ډاکټران وؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.او زموږ ټوله کورنۍ لیکوالان، شاعران او د ادب مینوالان وو

.بس خدای رزق رساوه

د مور او پلار خالي دعا مو دا وه، چې خدایه د دغو دوو کورنیو مینه د قیامت په ورځ هم
.کمه نه کړې

!او تل به یې دا شاعري زمزمه کوله

د ژوندون دا ورځې شپې دا د مینې سلسلې

خدای دې نکړي چې زموږ منځ کې راشي فاصلې

د ورځو نه یوه ورځ د اختر په چکر موږ وغوښتل، تر څو کامې ته د شیریخ خوړلو لپاره
.ولاړ شو

د کامې پر سړک ډېره زیاته ګڼه ګوڼه وه، دا وخت هنري ته یو د کرولا موټر والا ښکنځل
.وکړل

!هنري شتړینګ ته ناست وو، ماته غوصه راغله

:ورته مې وویل

.هنري موټر در چابک که، چې درنه ولاړ نشي؛ هنري توډي ته پښه ورکړه

!په ډیر لږ ځنډ سره یې کرولا ونیوله، کرولا والا هم ځانته ځان ویل

!موټر یې چابک کړ، په لاره کې مو ښه ضد وواهه

!موږ ډېره خواري وکړه، مګر کرولا ته مومانه ورنکړه، هنري ته سخته غوصه ورغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر يې غاړې ته ودراوه، شټرينګ يې په څوک وواهه.

داسې لکه ډير زيات چې مايوسه وي، سر  مې يې سينې ته رانږدې کړ.

ورته مې وويل:

خير دی هنري!

کيسه کې يې مه کيږه، اوس به څه وکړو نو!

دا وخت کرولا موټر والا بيرته راتاو شو، هنري ته يې کړل!

وروره دا خرکاړی دې چيرته کور کې ودروه، دا زموږ سره د مقابلې ندی، نور روان شو.

هنري سر راپورته کړ، هنبريک يې کش کړ، ما ورته وويل:

هلکه خيال کوه ته په غوصه يې!

اخيري ګير ته يې کړ، په فول پښه يې موټر له کرولا مخکې کړ، مګر کرولا بيا ورنه مخکې شوه.

ده چې پښه ورکړه، له هغې خوا په چپ لاس ټيلر راروان وو.

هنري بله لاره ونه ليده، په کرولا يې موټر وروست، کرولا له سړکه لاندې په ښي لاس کې درې څلور ملاقه واړول!

هنري په بانټ سيده د ډريور څوکۍ وهلی وه.

او ډريور ځای پر ځای مړ شوی وو، هنري چې له موټره کيوت، خوله يې وازه پاتې شوه.

لاسونو يې رپا پيل کړه، شيبه نه وه تيره چې د مخکې پوستې نه عسکر راغلل!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



:ما هنري ته ډېر وويل

.هنري څه چې تختؤ، مرګ دې کړی دی

مګر هغه ويرې نيولی وو، عسکرو له ما وپوښتل، ډريور څوک و؟

:ومې ويل

.ډريور زه وم

هنري په قهر جن انداز راوکتل، له جيبه يې د موټر اسناد راوباسل، دا د چا اسناد دي؟

ها

:دا موټر کوم رنګ لري، ما وويل

!نه نه ډريور زه وم، دی دروغ وايې

.!عسکرو هنري ته ځنځيرونه ( ولچک ) ورواچول، ماته يې کړل

.د دې پوښتنه بيا د ښار په محکمه کې وکړه، پوليسو  د هنري موټر هم قيد کړ

.هنري يې روان کړ، هنري ماته په عاجزانه انداز کتل، هغه يې له ګريوانه نيولی وو

.زه په ګونډو شوم، سترګو ته مې لاسونه ونيول، زما يار په داسې سخته کې وو

.مګر ما هيڅ هم کولای نشول، هغه يې ريښتيا هم د ښار محکمې ته راوړ

د دريواړو کورنيو غړي په محکمه کې حاضر شول، د مړي کورنۍ، د هنري کورنۍ او زموږ
.!کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محکمه کې قاضي وويل:

لومړی خو تاسې په خپله کليوالي مسله کې دا خبره حل کړئ.

که هغسې ونشوه، بيا نو د هنري لپاره د اعدام سزا ده، ځکه چې قصاص په قصاص ختميږي.

زموږ مشران د هنري لپاره د مړي له کورنۍ سره کښيناستل، ډير زيات عذر و زاري يې ورته وکړل.

مګر هغوی ويل:

چې زما ځوی يې قصدا وهلی دی.

چې زما ځوی نه وي، ولې يې قاتل ژوندی وګرځي.

د دواړو کورنيو خواخوږو خپلوانو خبره د کلي جرګې ته ورسوله، هغوی هم شينواري وو، موږ هم!

مګر هنري دوی بيا د ښې کوټ وو، خو ټول شينوارو کې راځي.

او دوی ټولو پدې فيصله وکړه، چې دوه په دوه به جرګې ته کښېنؤ.

فيصله داسې وشوه، چې راتلونکې شنبې ته به موږ دواړه کورنۍ لس لس لکه روپۍ د مړي کورنۍ ته ورکوو.

او جرګې چې هره فيصله وکړه، هغه به دواړه مني، که چا ونه منله، د هغې لس لکه روپۍ به سوزيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.د مشرانو جرګه وه، موږ پکې نه وو

.يوه ورځ زموږ په کور کې خبره خوره شوه، چې هنري يې خوشې کړ

.ما په منډه منډه ځان د هنري دوی کور ته ورساوه

:هنري راووانه، ورته مې وويل

دا څنګه خوشې شوې، ياره؟

:ويې ويل

!ولا نه پوهيږم، ورور

.خو خلک وايي چې د جرګې له مخې يې خبره هواره کړې ده

خا

نو دا خو مړی وو، په بدل کې به يې څه ورکړي وي؟

:ويې ويل

!ته دا خبرې پريږده، راځه ياره

.چې لګ دې کوڅو کې وګرځو، د معبث کټملو سخت خوړلی يم

!بيخي خراب يم، ياره

:ما ورته وويل

!دا څه وايې يار

(c) ketabton.com: The Digital Library



!خو په هغې ورځ ما پوليسو ته ويلي وو کنه

:چې زه ګاډيوان وم، هغې وويل

ياره ته هم عجيبه يې، غلطي زما وه، او سخته به يې تا تيروله ها؟

.داسې خو نو نشي کېداى، خير مګر سخت وخت خو هاغه وو

.چې په لومړي ځل مې د لاسه مرګ وشو، هاغه صحنه به مې تر مرګه هم له ياده ونه وځي

شفيقه ما به خداى وبښي؟

.دا وخت يوه نجلۍ تور سر د هنري و خواته منډې راوهلې، د نجلۍ ښايست شغلې کولې

.پيغله وه، له ما يې هر څه هير کړل، ډير ژر د هنري و خواته راورسېده

:په ژړا ژړا يې ورته داسې وويل

.لالا ستا د مرګ اجوره به اوس زه ادا کووم

.خير دى لالا زه ښايسته ژوند غواړم، ښه ميړه غواړم

.ښايسته بچيان غواړم

!هنري هک حيران شو، ماته يې وکتل، بيا يې خپلې خور مريم ته وکتل

:ورته ويې ويل

.څه څه زه خو ستا په يوه خبره هم پوه نشوم

!او ته کور نه ولې په داسې حال کې راوتې يې ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړونی دې په سر که،

مريم په سلګيو کې وويل:

لالا جرګې پريکړه کړې، چې ما ستا د قتل په مقابله کې هغې کورنۍ ته په بدو کې ورکړي.

هغه سړی د مړي پلار دی.

ما خو داسې ژوند له خدايه نه وو غوښتی!

هنري ماته راوکتل، د خولې نه يې د ژړا دردونکی غږ راووت، ما څانته رانږدې کړ.

ورته مې تسلي ورکړه، هنري ته مې وويل:

هنري بايد يو ښه پلان جوړ کړو.

تر څو له دغه مشکل څخه نور خلاص شو، هنري وويل:

سمه ده.

زه نن شپه سوچ وهم، سبا درته وايم.

ما وويل سمه ده،

دا شپه هم تېره شوه، په سبا يې هنري د خپلې خور سره چې د حيا ځادر يې په سر وو

او حجاب يې کړی وو، راته يې وويل:

شفيقه وروره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا راته یو وخت ویلي وو، چې هنري هر وخت په سخته کې شوې، نو ماته غږ وکړه، انشاالله د ځانه هم درته تیر یم.

نن په سخته کې یم، وروره!

ستا مرستې ته ډیره زیاته اړتیا لرم.

ما ورته وویل:

وایه وروره!

زه څه مرسته درسره کولای شم.

راته یې وویل:

اوس خو صرف دومره وکړه، چې موبایل دې مات کړه، او ما سره راځهْ!

نوره خبره به درته وروسته وکړم.

موبایل مې د دوو کاڼو منځ کې کیښود او د پاسه مې په بل کاڼي وواهه!

دوه ټوټې شو، بیا یې وویل:

سیمکارتونه دې هم مات کړه، په سخته مې ورسره ومنله!

له کلي د ځنګله خواته روان شؤ، زمونږ د کلي ځنګل هم ډیر ویروونکی وو.

او دا وخت د سهار څلور بجې وې، هره خوا د شپې خړه وه.

یخ هم ځانته څه ویل!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.د مرفانو يو نيم آواز تر غوږه کېده، نور هيڅ هم نه وو

د ځنګله په منځ کې د خدای درې پښيمانه ګناهګارانو منډې وهلې، دوې داسې ګناه کړې .!وه، چې شايد خدای په توبې ښنلی وای، مګر د کلي خلکو نه ښنل

.په ځنګله کې ډير تيز ولاړو، تر يو ساعت مزل وروسته د ځنګله منځ سړک ته ورسېدو

په کلي کې ځکه په موټر کې نه کښيناستو، چې بيا له هغې ځايه موټروان پيدا کيدای .شو

.د ځنګله په اخره کې دموټر په انتظار کيناستو، څه شيبه وروسته يو موټر راښکاره شو

موږ د کابل په لور سفر ته مخه کړه، په کابل کې هنري زه او مريم يو جماعت ته بوتلو، :ماته يې وويل

شفيقه زه په خپل ژوند کې يوه دغه نيازبينه خور لرم، زه نه غواړم چې د دې ژوند دې .تنور شي

.خير دی، زما له خور سره واده وکړه، او لدې ځايه تاسې دواړه قاچاقي بهر ته لاړ شئ

دوهمه برخه

هنري زما او د مريم واده وکړ، او زموږ لپاره يې له کابله د يو قاچاقبر سره خبره وکړه، تر .!څو مو ايران ته پخير ورسوي

.موږ کابل کې په اوږد بس کې سپاره شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



.یو ساعت مو ورته انتظار وکړ، تر هغې وروسته بس حرکت پیل کړ

.ما سره غم زما د کورنۍ وو، چې په هغوی به زما په بیلتون کې څه تیریږي

آیا هغوی به دا شرم پر ځان یوړلای شي، چې شفیق د خپل یار او ملګري هنري خور تختولې ده؟

آیا هغوی ته به ژوند خوند ورکړي کنه؟

د هنري او شفیق ملګرتیا خو ځاری نه درلود، دوی داسې فکر هم کړی نه وو، چې له داسې ستونزو سره به مخ شي.

.!خو اوس پرې راغله، ما مریم ته وکتل

.مریم پر ما له مخکې نه مینه وه، د هغې زه خوښ وم

.خو د پښتو رواجونو او د ورونو او پلار غوسو د هغې شخصیت وژلی وو

.او هغې دا هم ویلای نشول، چې شاید شفیق زما لپاره ښه وي

.او زموږ د دواړو کورنیو خپلوي به پدې رشتې سره لا ښه شي

خیر د هغې ارمان پوره شو، او ما هم د هغې سترګو ته په کتلو د خپل یار هنري مینه ماته کړه!۔

.د هغې سترګې هنري ته تللې وې، ویختانو یې هم خرمه یې رنګ درلود

د کابل اوږد وي ای پي موټر له کابله د نیمروز پر لور حرکت وکړ، هنري له ګاډي ښکته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې د موټر په اخیري سیټ کې ناست وو، په ښیښه کې هنري ښکارېده، هغې له درده د ډک خفګان لاس خوځاوه.

ماته سخته ژړا راغله، ځکه چې خدای خبر اوس به له هنري سره څه کیږي.

خو هنري له ماسره وعده کړې وه، چې زه بیا کلي ته نه ځم، او دلته په لارو کوڅو کې له خپلې کورنۍ نه ځان غیبوم.

موټر په خپله لاره رهي وو، ډیر په منډه منډه یې د نیمروز په لوري ځغاستل!.

یو وخت په مریم د خوب جټکه راغله، هغې په ناپامۍ کې خپل سر زما په ولي کېښود.

ما فکر وکړ، لکه ویده شوه.

ژر ژر مې له جیبه هغه موبایل راوباسه، چې په کابل کې مې مې د هنري نه پټ اخیستی وو.

او آسیه ته مې مسیج وکړ، ورته مې ولیکل!

سلام ګرانې!

زه په ډیر سخت مشکل کې یم، ما ویل چې ستا به راته سودا وي.

دا دی اوس یو څه فارغ شوم.

اسیه:

ګرانه چیرته وې، مخکې مې درته څومره مسیجونه کړي دي، ته وګوره ټول واټساپ بدې ډک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې کتل ګرانې هيله ده مه خفه کيږه، کله چې مې بيا موقع پيدا کړه، خبرې درسره کووم، سمه ده؟

.!موبايل مې زنې ته نږدې کړ، د بس په مخامخ کونج کې سوچ يوړم

يو ځل مې مريم ته وکتل، د هغې معصومې سترګې او د بلې خوا زما پشان يو شيطان چې په ورځ کې پنځلس جنکيانې بدلوي رابدلوي.

.شپه وه، يو وخت مې په سوچونه کې سترګې سره ورغلې وې

.يو دم چا غږ وکړ، ورونو پاڅئ، د لمونځ وخت دی

.دا مهال سهار وو، ټول خلک د لمونځ کولو لپاره لاندې کېوتل، زه هم راکېوتم

.په يخه هوا کې مې په يخو اوبو اودس وکړ، او لمونځ مې ادا کړ

.بيرته چې موټر ته وختم، د مريم حجاب نه وو

.سر يې ببر وو، سترګو کې يې د درد اوښکې له ورايه معلوميدې؛ هغې شور جوړ کړ

:زه يې په سينه ووهلم، ما ورته وويل

!څه کيسه ده مريم

احوال راکړه، ويل يې دا نمبر د چا دی؟ ها؟

:نمبر د آسيه وو، ورته مې وويل

... ګوره مريم دا

!شفيقه هڅې فضول بهانې مه جوړوه، که ته لدې جينۍ سره مينه لرې نو ورشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**.زه دې په لاره کې نه خنډ کیږم**

**.!مګر زما ژوند مه بربادوه، مریم له بس نه کېوته**

**.زه هم پسې ورغلم، په زور مې بس ته راپورته کړه**

**ورته غوصه شوم،**

**.ما او تا تر اوسه لا سم نه پیژنؤ، زه پوره هڅه کووم، چې بدل شم**

**.د خپل یار لپاره، د هنري لپاره به زه اور ته هم ودانګم، دا خو وړې خبرې دي**

**:مریم وویل**

**زه په تا څنګه باور وکړم،**

**.هنري دریاد کړه، زموږ د دواړو کورنیو مینه دریاده کړه**

**ته ما په مینه او خوښه ځانته واده کړې نه یې، تا سره ما د هنري په وینا واده وکړه، او ما .له هغې سره دا ژمنه کړې ده**

**چې تر څو زه ژوندی یم، نو ستا د خور ژوند به انشاالله ګل ګلزار وي، اوس نو ته نورې .!خبرې مکوه**

**.او فکر دې خالي دېته ونیسه چې موږ باید پخیر اروپا ته ځان ورسوؤ**

**:یو څه سوچ یې وواهه، بیا یې سر وخوراوه، راته یې وویل**

**اوس راته صفا صفاووایه اسیه څوک ده؟**

**:ومې ویل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما يو کتاب يې يو وخت لوستی وو، بيا يې راته مسيج کړی وو، ملګرتيا مو سره جوړه سوه.

هغه له ما سره مينه لري، خو زما داسې چندياني نه خوښيږي،

نو چې ستا نه خوښيږي، بيا يې ولې نمبر له ځانه سره ساتې، ژر ژر کوه ډيليټ يې کړه هله!.

د هنري خور وه، هماغسې تيزه او غوصه ناکه!

نمبر مې ډيليټ کړ، مريم په ژړا شوه، زما په ولې يې سر کښنود، ومې ويل ولې، ولې ژاړې مريم؟

په ژړغوني انداز يې وويل:

شفيقه د يوې نجلۍ او هلک ارمان پخپل ژوند کې دا وي، چې د واده شپه په سره جوړه کې هلک خپله ميرمن ويني، او نجلۍ په سپينه جوړه او تور واسکټ کې خپل بادشاه خاوند ويني، مګر موږ بدبختو ته ګوره!.

لومړی د خړ کابل د لارو ګرد ووهلو، او بيا تر هغې وروسته راباندې په تورو او د غم جامو کې د واده شپه راروانه ده.

په داسې حال کې چې زه ښه پوهيږم، چې پدې شپه کې به د يو بل مخ هم ونه وينؤ.

ګوتې مې يې سترګو ته ورنږدې کړې، ګرمې اوښکې مې يې لمس کړې.

بدن مې يو رقم جتکه وخوړه، موټروان ته مې وويل:

ګاډی ودروه موږ کوزيږؤ، مريم حيرانه شوه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېر ژر موټر ودريد، ما او مريم له ګاډي څخه راکوز شو؛ دا ځای د زابل دښته وه، هيڅ آبادي نه تر سترګو کېده.**

**ما چې وکتل، زمونږ بس هم تر ډېر ليرې ځايه تللی وو، بله لاره نه وه، بس په دښته کې مو مزل شروع کړ، خو سړک به مو نه پريخود.**

**تر يو څه مزل وروسته يو آباد کلی په نظر راغی، پدې کلي کې ګڼ شمير خلک وو.**

**کلی په ژوره وو، زيږ مازديګری وو؛ له ليرې ځايه ښکاريده، چې يو تور سړی ولاړ دی.**

**او له ساه څخه د بوقې په ذريعه اوبه راوچتوې، بله خوا بيا يو يو ځای زنانه وو د خپل کور انګړونه جارو کول!.**

**مونږ هم پدې کلي ورګډ شؤ، غوښتل مې د يوې شپې لپاره اطاق په کرايه کړم.**

**مګر د کلي خلکو محاصره کړم، پوښتنې يې کولې چې تاسې څوک ياست؟ له کومه ځايه راغلي ياست؟ ايا دا نجلۍ خو بدې راتختولې نه وي؟**

**ما ورته ويل چې دا زما ميرمن ده، مګر هغوی باور نکاوه، په اخر کې يې مريم هم يوې غاړې ته کړه زه هم!.**

**له ما يې د هغې د مور، پلار او کورنۍ په اړه وپوښتل، او له هغې يې زما د کورنۍ په اړه وپوښتل!.**

**دا چې مونږ دواړو د يو بل پلار مور او کورنۍ پيژندل، نو خلک يقيني شول، چې دوی واقعا ميړه او خاوند دي.**

**دې خلکو وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې زموږ ميلمانه ياست، نن شپه به موږ تاسې داسې ونازوؤ، چې هيڅکله به هم چا داسې نازولي نه ياست.

ما او مريم خوشحاله شو، مريم ته مې وکتل، سترګې يې په شوخۍ رانه واړولې.

راته کړل يې، ډارنه دومره زيږ شوی شوی وې، بيا يې وخندل!.

ومې ويل ګوره داسې خبرې به زما په حق کې نه کوې خا!.

ويې ويل کوم يې کوم يې کوم يې

څه به وکړې ها!.

هيڅ مې ورته ونه ويل، دې خلکو موږ ته زموږ کوټه او د بيده کېدو ځای راوخود.

نور بيرون د خپل عبادت پر لور ووتل، ماته يې هم وويل راځه.

زه چې وروتم، ماته مې د مدرسې د استاذ خبره ذهن ته ودريده، چې ويل به يې برياليان الله هو ډير وايې او دې لفظ سره نځا هم کوي.

ما هغه وخت دا نه منله، مګر دا ځل مې په ريښتينې ډول پخپلو سترګو وليدل، هغوی توبه د الله نوم ته نځا کوله!.

يو نفر يې زما و خواته راغی، راته يې وويل:

ايا د الله نوم په اوريدلو سره ستا په وجود کې جذبه نه راځي؟

ومې ويل:

الله تعالی زموږ رب دی، مګر الله تعالی فرمايلي دي، چې تاسې زما عبادت وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ماته نڅا وکړئ، د خلکو تندي راته تريو شول، بس نور مې څه ورته ونه ويل؛ ځکه چې شپه يې راکړې وه.

احسان يې راباندې کړی وو، ځکه زه هم غلی شوم.

شپه ناوخته شوه، خلک ټول خپلو خپلو استوګنځايونو ته ستانه شول!.

ما آسمان ته وکتل، په آسمان کې ځليدونکو ستورو هم زړل او هم يې خندل؛ له يو خوا په ژوند کې په لومړي ځل خپلې کوټې ته پدې نيت ورتلم، چې خپله بي بي به لمس کړم.

ورسره به وخاندم، د مينې د ژوند شروعات به ورسره وکړم.

مګر له بلې خوا مو راتلونکی نا معلوم وو، زما په شان معصوم هلک يوه د حيا نه ډکه نجلۍ له کوره تختولې وه.

او واده يې هم ورسره کړی وو، زړه نا زړه خونې ته ولاړم.

سلام مې واچاوه؛ مريم هم سره جوړه له کومې خوا پيدا کړې وه.

ډيره ښکلې ورسره ښکارېده، خوا ته يې ورغلم.

مريم!

که زموږ ژوند هر ډول دی، خو دا واوره يو وخت به داسې هم راشي چې زه به دا سختيانې پخپل يو کتاب کې وليکم.

او دا درته په يقين سره وايم چې انشاالله دا کتاب به ډير زيات خلک خوښ کړي

مريم زما په خوله ګوته راکېښوده، او ويې ويل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



.!نن هغه ورځ ده، چې ما به له خدایه په سوالونو غوښته؛ نن هر څه هیر کړه

غم خوشحالیانې هر څه هېر کړه، نن شپه به صرف زما او ستا وي، بل هیڅوک هم پکې

.!نشي ځایدای

ریښتیا تا دوه رکعته شکرانه لمونځ کړی دی؟

:ومې ویل

نه

.ویل یې پاڅه هله دوه رکعته لمونځ په لوړ غږ سره وکړه، چې زه هم درپسې شاته ودریږم

دریمه برخه

.ما په لوړ غږ سره لمونځ شروع کړ، او شاته راپسې مریم هم ودریده

!دوه رکعته شکرانه لمونځ مو وکړ، او بیا مو ورپسې دعاګانې ولوستلې

که هر ډول وه، خو بیا هم د خوشحالۍ شپه وه، او داسې شپه په ټول عمر کې صرف یو ځل

.راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه هم نوره په تیرېدو شوه، د ژوند هاغه آرمانونه مو زیاتر پوره شول، چې په کوچنیوالي کې به مو صرف په خیال کې راتلل، ژوند هم عجیبه شی دی.

اول د انسان ارمان پوره کیږي، نه د!

خو چې پوره شي، بیا به ضرور پکې داسې یو نیم څه کمی وي.

یو وخت د مریم په تورو ویختو خوب یوړم، فکر مې شو چا دراوزه وټکوله، له خوبه پاڅېدم.

لا سهار وو، خو د دې کلي خلک به ټول سهار وختي یوځای جمعې ته تلل، ځکه یې مونږ هم له ځانه سره کړو.

او ورسره روان شؤ، دا یې ښه عادت وو، ځکه دوی نه غوښتل چې په کلي کې دې یې بې لمانځه کس پاتې شي.

ځکه چې له یو بې لمانځه سره الله تعالی په شپیته کورونو عذاب نازلوي.

نور خو هر څه سم وو، مګر له ما سره دا وخت د حمام کولو فکر وو، ځکه چې د واده شپه مې تېره کړې وه.

او باید ځو لوټې اوبه مې په سر اړولی وی، تر څو د لمونځ لپاره پاک شوی وای؛ مګر دومره جرأت اوس چا کې وو.

چې د غسل کولو ځای مې ورنه پوښتلای وای، ډیر هاخوا دیخوا شوم.

مګر دا چې خلک به مې وکتل، چې په سترګو به یې لاسونه کشول، راکشول، بیا به ورنه وروسته شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.بس د یو بابا خوا ته ورننږدې شوم

ورنه مې د غسل د ځای پوښتنه وکړه، تور مخ یې راواړاوه، ماته چې یې راوکتل، نږی خندا هم ورغله خو ځان یې کنټرول کړ.

:راته کړل یې

.راځه جماعت کې به درته زه ځه لاره برابره کړم

.جماعت یو څه د کلي نه لرې وو، له زوړ بوډا مې پوښتنه وکړه

دا جماعت مو ولې دومره لرې جوړ کړی دی؟

.مورِ خو ننګرهار کې له کورونو سره نږدې نږدې مسجدونه جوړوو

:وراره

جماعت ته په تلو سره له انسانه په هر قدم سره یوه ګناه غورځیږي، او یوه نیکي ورته په کتاب کې لیکل کیږي.

.ځکه مورِ له خپل کلي دومره لیرې جماعت جوړ کړی دی

.ښه ښه اوس پوه شوم

.تر یو څه شیبې وروسته مسجد ته راورسیدؤ، بوډا سړي غسل خانه راوخوده

زه هم ورغلم، اوبه یخې وې، خو بله چاره نه وه، له سنګ غسل خانې نه هم رپیدونکي غږونه راپورته کېدل...!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**!...د انسانانو خاموشي وه، صرف ګونګټانو آوازونه کول**

**!...د سهار څلور بجې وې، د حمام خانې نه راووتم؛ بيرون هر چا د خوب اصويلي کول**

**په جماعت کې زمکنۍ فرش يا قالينه نه وه، خلکو ويل چې مينځلو لپاره يې ټولې کړي دي.**

**ځمکه پښه وه، ډيره يښه لګېده،**

**.خپل څلور رکعتي لمونځ مې ادا کړ، د مسافرۍ کنجايش هم پکې نه وو**

**په هر حال لاسونه مې د دعا په پار پورته کړل، تر دعا وروسته مې خپلې څپلۍ په پښو .کړې، له مسجده روان شوم**

**.څنګه چې له مسجده راووتم، ګورم مخې ته مې عسکر ولاړ وو**

**!..ولچک يې راواچول**

**.يوې بند خونې ته يې يوړم**

**لږ وخت کې يې مريم هم راوړه، او يو څه شيبه وروسته يو څه ډله خلک زندان ته !..رانونتل**

**!...زما په سترګو توره پټۍ لګيدلې وه، هيڅوک هم راته سم نه ښکارېدل**

**.هر کله چې يې راته تر سترګو پټۍ لرې کړه، ګورم چې د هنري او مريم پلار دی**

**.زه تر دې مهاله نه پوهېدم، چې زموږ ادرس به دوی ته چا ورکړی وو**

**.موږ يې په موټرو کې واچولو، خپلو کورونو ته يې بوتللو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



.کور کې یې زموږ لاسونه له زولنو خلاص کړل، پلار وروړ مور ټول خفه وو

!..هیڅا هم راسره سترګې نه مخامخ کولې

.زموږ د دواړو لاسونه یې خلاص کړل، ما له ټولو وپوښتل څه شوي دي

ولې داسې خفه ټول ولاړ یاست؟

.ټولو له درده ډکه ژړا کوله، د هنري پلار خپلې سینې ته راجوخت کړم

:او راته یې په ژړغوني غږ وویل

زما د هنري له یادونو صرف شفیق پاته وو او دې لیوني هم هغه کوله، چې ما یوازې پریږدي.

.او ځان چیرته بهر ملک ته ورسوي

!...څه څه مطلب

ب ا څه

هن هن

.په سر مې جټکه راغله، شاته وغورځېدم

.یو وخت مې سترګې خلاصې کړې، په سور پالنګ کې پروت وم

.شاوخوا ترې سره ګلان تاو شوي وو، هرې خواته د ګلان هارونه او ګلدانۍ پرتې وې

دا وخت مریم راننوته، په ما لا هم سترګې پټې پټې کیدې، مریم یو دم له خوشحالۍ چیغه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.منډه يې واخيسته ټوله کورنۍ يې خبره کړه، چې شفيق په هوښ راغی

ټول زما و سر ته راغلل، ما له خپل بابا څخه وپوښتل، بابا دا زه څه وينم؟

زما يار په حق رسيدلی، او تاسې دلته ماته د واده خونه تياره کړې؟

:د هنري پلار راته وويل

:بچی

.په مرګ تر درې ورځو زيات خفګان ګناه لري

الله تعالی دې ستا او د مريم جوړه همداسې تر او تازه لري، په پښتنو کې صرف هنري هغه هغه اتل وو، چې خور د ډولۍ کړه، او ځان يې د ګولۍ کړ.

هنري د شين اسمان هاغه اتل ستوری وو، چې ټولو ستورو ته يې له مينې ډک آسمان پريښود.

.او پخپله د جدايې په تور بلک هول کې فنا شو

دا دنيا هسې هم فاني ده، الله تعالی دې دا کورنۍ په هاغه جهان نه بيلوي، او د شفيق او هنري داستان دې تر قيماته ژوندی وي.

.والسلام

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**